(c) ketabton.com: The Digital Library



تر وخته ډېر وخت لري چې تيار شي ځکه د کوچينانو لويول او هغو ته ښوونه کول ډېر وخت نيسي.

7. کاريګر خپل کار خرڅوي : کاريګر د اجورې په بدله کې پانګوالو ته کار ترسره کوي نو له دې کبله پانګوال بايد له کاريګر سره ښه چلند وکړي.

8. اجوره او د کار ورتيا : اجوره د کاريګر له ورتيا سره مخامخ اړيکه لري که يو کاريګر ډېره کاري ورتيا لري نو اجوره هم ډېره اخلي.

د کاري ورتيا عناصر : د يو کاريګر کاري ورتيا په لاندې عناصرو پورې تړاو لري:

❖ جسماني او ذهني قابليت : که يو کاريګر ښه جسم او ښه اخلاق ولري کولی شي چې ډېر کار ترسره کړي او په توليد کې زياتوالي راولي همدرانګه ارثي خواص هم د کاريګرو په کاري ورتيا اغيزه لري ځيني کاريګر په ارثي ډول ډېر خواريکښ او دهغو کاري ورتيا هم لوړه وي .

❖ اخلاق له کاري ورتيا سره مخامخ اړيکه لري که يو کاريګر ايمانداره او امانت دار وي خپل وخت نه ضايع کوي. ټول وخت په کار تيروي طبيعي خبره له نورو هغو کاريګرو چې بيځايه وخت تيروي ډېره کاري ورتيا لري.

❖ ټولنيز حالت : د يو هيواد ټولنيز حالت هم په کاري ورتيا ډېره اغيزه لري ځکه کاريګر ته مناسبه اجوره ور نه کړل شي د کاريګر کاري ورتيا هم کميږي ځکه له هغه سره د کار جذبه لمنځه ځي همدرانګه که د پانګوال او کاريګر ترمنځ اړيکې ښه وي او پانګوال له کاريګرو سره ښه چلند کوي ورسره د

